دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

کله چې الله او دهغه رسول د کوم کار په هکله پریکړه وکړي نو هیڅ مؤمن سړی او مؤمنه ښځه حق نه لري چې د خپل هماغه کار په هکله اختیارمن اوسي، او هر چا چې له الله او رسول نه یې سر وغړاوه، نو په ربښتیا چې په ښکاره یې لیار ورکه کړه. (سورة الاحزاب: ۳۶)

درس حدیث

از ابو هریره رضی الله عنه روایت شده که: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: مسلمان برادر مسلمان است، به وی خیانت نمی کند، دروغ نمی گوید، او را خوار نمی کند، همهٔ ارزشهای یک مسلمان بر مسلمان حرام است، آبرویش، مال و خونش. آگاه باشید که تقوی اینجاست (در قلب) ! کافیست برای شخص از شر و بدی که برادر مسلمانش را تحقیر کند. (ریاض الصالحین)

شهادت خلورم کال، ۲۲ مه ګڼه، پرله پسې ۱۷۷ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د تلې ۱۹ مه د۱۴۳۳ هـ ق د ذوالقعده الحرام ۲۴ مه د۲۰۱۲ م د اکتوبر ۱۰ مه

عبدالهادی ارغندیوال برای یک دورهٔ دیگر به حیث رئیس حزب اسلامی افغانستان انتخاب گردید

* اعضای شورای اجرائیه جدید حزب اسلامی معرفی شدند
* ناظمیت های جوانان و زنان نیز عضویت شورای اجرائیه را حاصل کردند

به سلسله جلسات سالیانهٔ شورای رهبری حزب اسلامی افغانستان به روزهای ۱۲ و ۱۳ میزان، جلسهٔ روز دوم با قرائت آیاتی از کلام الله مجید توسط مولوی صاحب عطاء الله لودین معاون شورای عالی صلح آغاز گردید. پس از تلاوت جناب مولوی صاحب لودین ضمن ایراد موعظه ای به اعضای شورای رهبری حزب اسلامی، در مورد نقش دعوت در اقامهٔ نظام اسلامی، شیوه های دعوت با توجه به شرایط زمان و مقتضیات عصر و نقش دعوتگران حزب اسلامی در اصلاح جامعه مطالبی را ارائه داشت.

سپس رؤسای کمسیون های چهارگانهٔ شورای رهبری که روز گذشته، بخاطر بحث و مناقشه روی مسایل دعوتی، تشکیلاتی و سیاسی تشکیل شده بودند، فشرده طرح ها و پیشنهادات شان را حول محورهای یاد شده قرائت کردند و قرار بدان شد که یک هیأتی غرض ارزیابی این طرح ها تعیین و پس از توحید در شماره های آینده شهادت به نشر خواهد رسید.

پس از آن طبق برنامه اسمای اعضای کمسیون نظارت برای انتخاب رئیس و اعضای شورای اجرائیه حزب اسلامی به شورای رهبری پیشنهاد گردید که پس از کسب توافق، کمسیون به کار خود آغاز کرد.

بقیه در صفحه ۴

دهیواد شمال ته دځوانانو د یو پلاوي د سفر راپور

دروان لمریز کال د سنبلې دمیاشتې په ۱۷مه دحزب اسلامي افغانستان له مرکزي دفتر څخه د ډاکتر عمرخیل په مشري یوځلورکسیزه پلاوی دهیواد شمالي ولایتونو نو ته خپل سفرپیل کړ. ددغه سفرموخه دهیواد په شمال کې دځوانانو تنظیمول، له پخوانیو جهادي مشرانو، قومي مخورو، علمای کرامو، سپین ږیرو اوځوانانو سره دحزب اسلامي افغانستان دروانو چارو دپرمختګ په موخه لیده کاته وه.

په دغه سفر کې د ورځې په ۲۴ مه دکندز ولایت په مرکزکې د ځوانانو ټولنې داساس نامې له مخې روښانه ټاکنې ترسره اوپه مرکز او ولسوالیو کې د ځوانانو ولایتي رئیس، مرستیال، دځلور ګونو کمیټو او ولسوالیو مسؤلین وټاکل شول.

همدارنګه د یاد پلاوی له خوا دکندز پنځو ولسوالیو، امام صاحب، خان اباد، قلعه ذال، علي ابادو اوچهار درې ولسوالیوته دځوانانو دتنظیم، له پخوانیو جهادي قوماندانو، قومي مشرانو اوځوانانوسره دلیدو کتو په موخه سفرونه ترسره شول.

په بدخشان ولایت کې دحزب اسلامی دځوانانو ټولنې دنمایندګانو غونډه

ولسوالیوته په سفرونوکې له سلګونو ځوانانو اوقومي مشرانو سره دحزب اسلامي افغانستان

پاتې ۴ مخ

درگذشت یکی از چهره های تابناک نهضت اسلامی بار دیگر دوستان و همسنگران اش را در عالم از اندوه و غم نشاند

الحاج قاری ضیاء الدین فرزند غلام بهاؤالدین که ۶۰ سال قبل از امروز در یک خانواده مسلمان متدین و مجاهد در قریه چندالبائی ولسوالی پغمان چشم به جهان هستی گشود. تعلیمات ابتدائی، ثانویی و تحصیلات عالی خود را پیهم در مدارس دینی تحت نظر علمای جید کشور بپایان رسانید. در عنفوان جوانی به صفوف نهضت اسلامی پیوست. انسان متین، استوار و متعهد به آرمانهای مقدس اش لحظهٔ آرام نه نشست، دوشادوش همسنگران مؤمن و خداپرستش در راه اعلای کلمة الله مردانه پیکار و مبارزه نمود.

این عالم بزرگ و حافظ چیره دست کشور که افتخار حفظ قرآن مجید را از بارگاه فیض الهی کسب نموده بود، با قیام گران مجاهد در برابر دژخیمان زمان قدعلم کرد و انقلاب و شور در این وطن آفرید. مردانه وار دوبار راهی قفس های آهنین زندان گردید، تعهد مستحکم که نسبت به مردمش داشت، در عقب میله های زندان هم لحظهٔ آرام نه نشست، به دعوت و مبارزه پرداخت. صدها شاگرد را ....

بقیه در صفحه ۴

د بټي کوټ په ولسوالي کې د حزب اسلامي سیمه ییز دفتر پرانیستل شو

د حزب اسلامي ورونو د بټي کوټ د ولسوالی ترځنګ په یوه مدرسه کې غونډه دائره کړه چې په هغې کې د حزب اسلامي د ولایتي اداري ترځنګ د حزب اسلامي متعهد ورونه، قومي مشران، علماء او ځوانانو ګډون کړی و.

غونډه د قرآن کریم د څو آیتونو په تلاوت پیل شوه او پرانیستې وینا د حزب اسلامي د بټي کوټ ولسوالی ناظم څارنوال رضوان الله وکړه، راغلو میلمنو ته یې ښه راغلاست وویل او د دوه کلو کاري راپور یې د غونډې برخه والو ته وړاندې کړ.

بل ویناوال حاجي صاحب عصمت و، هغه پخپلو خبرو کې وویل چې د بټي کوټ ورونه

پاتې ۴ مخ

عواقب خطرناک تجاوز خارجی بخاک افغانستان

اعزامی

صفحه دوم

برخی از احکام و معلوماتهای مربوط حج

مولوی محمود درسوال

صفحه سوم

امریکا د منفي تبلیغاتو له لارې د امنیتي سند لاسلیکول غواړي

کابل، رسنۍ:

افغان حکومت وایي، چې د امریکا په لمسون د لویدیځو رسنیو او تحقیقاتي ارګانونو له تبلیغاتو سره سره به له متحده ایالاتو سره د ستراتیژیکو همکاریو په امنیتي سند کې له خپلو ملي ګټو څخه په شاه نشي.

د جمهوري ریاست د چارو د ادارې ویاند رفیع فردوس د سې شنبې په ورځ په کابل کې په یوه خبري کنفرانس کې وویل، چې متحده ایالات هڅه کوي ترڅو د لویدیځو رسنیو او څیړنیزو ارګانونو له لارې پر افغان حکومت فشار وارد او له دې لارې له خپلې خوښې سره سم له افغانستان سره امنیتي ستراتیژیک سند لاسلیک کړي.

د ښاغلي فردوس په خبره افغان حکومت له امریکا سره په امنیتي برخه کې ستراتیژیکي همکاری غواړي، خو په دې برخه کې به یو

پاتې ۴ مخ

محترم استاذ! ملت تاته د امید سترګې نیولي دي

محمد خلیل

تېره پنجشنبه د تلې دیارلسمه د ښوونکې د ورځې په توګه د ټول هېواد په ښوونځیو کې په داسې مهال ونمانځل شوه چې نږدې ۵، ۹ میلونه زده کوونکي د زده کړې له لوی نعمت څخه برخمن دي.

لدې واقعیت نه هېڅوک سترګې نه شي پټولی چې له کومې ورځې نه ښاغلې فاروق وردګ د پوهنې وزیر په توګه په دنده ګمارل شوې د هېواد د پوهنې په ډګر کې ستر انقلاب تر سترګو کېږي، د هېواد په ګوټ ګوټ کې ښوونځي او لیسې فعالې دي او د هېوادګران ماشومان پکې زده کړې کوي، خو هغه کمی چې په ښوونځیو کې لیدل کېږي هغه د ځینو ښوونکو، سرښوونکو او مدیرانو نه پاملرنه، غفلت او بې پروایي ده چې د زده کوونکو تعلیم، تربیه او استعداد یې تر درووند:..



پاتې دویم مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

افغانان کله هم له خپلواکي نشي تېرېدلی

د يولسم سپتمبر له تروريستي پېښې وروسته امريکا له خپلو ناټو ملګرو سره يوځای په خپله خوښه پر افغانستان په دې بهانه پوځي يرغل وکړ چې دلته د ترهګرو جرړې ختمې او په افغانستان کې په خپلو پښو ولاړ حکومت او امنيت راوړي. که څه هم د طالبانو حکومت وپرځېد او حامد کرزی د اقتدار پر ګدی کېناست، اسامه بن لادن او ډله يې له افغانستان نه ووتله خو په افغانستان کې امن رانغې، جګړه ختمه نه شوه، ورځ تر بلې حالات ترينګلي او د جګړې لمنه مخ په پراخيدو شوه، په دې جګړه کې زيات تاوان د افغانستان عام ولسي وګړو ته ورسېد چې تر ننه ورته رسېږي. په دې جګړه کې امريکا او ناټو ځواکونو ته هم ډېر ځاني او مالي تاوانونه ورسيدل چې هېڅوک ترېنه سترګې نه شي پټولې، ولې لدې حقيقت نه هم انکار نشي کيدلې چې امريکا او ايساف ځواکونه د افغانستان په اړه پخپلو ژمنو کې پاتې راغلل، ددې پرځای چې د افغانستان د زمکنی بشپړتيا حفاظت وشي نور هم له ګواښ سره مخامخ شو. پخپلو سترګو ګورو چې نه د افغانستان سرحدونه په امن کې دي او نه هم دننه په افغانستان کې وګړي د امنيت له نعمت نه برخمن دي، په ځانګړی ډول له ښارونو دباندې ټولې سيمې د ناامنی په اور کې سوځېږي او د هر چا په کور کې د غم تغره غوړيدلې ده. د ګاونډيانو توغندوي بريدونه او نور ډول ډول لاسوهنې دوام لري.

سرحدي پولو ته نږدې ډېرې اوسيدونکي له خپلو سيمو نه کډې کولو ته اړ شوي او پخپل هېواد کې د کډوالي تريخ ژوند تيروي، لنډه دا چې نه د افغانستان د پولو ساتنه کېږي او نه هم په دننه افغانستان کې د جګړې لمبې مړی شوي دي، هر افغان لدې حالت نه ځورېږي او تر پوزې راغلي. امريکا چې د افغانستان د پوځونو د روزلو او مسلح کولو کومه ژمنه کړی وه پر هغه يې هم تر اوسه وفا نه ده کړی، پوځ جوړ شوې خو وسله نه لري، چې مثال يې د بې کارتوسه ټوپک په څېر دی نه د چا ترېنه سترګه سوزېږي او نه ترېنه د چا حيا کېږي.

د افغانستان ځوريدلی ولس چې د تېرو يولسو کلو راهيسې د امن په انتظار کې شپې سبا کوي ددې پرځای چې د امن د ليدو ارمان يې پوره شي ورځ تر بلې نور هم د ناامني په طوفان کې غرقېږي، آخر داسې ولس چې د راغليو دوستانو له لاسه هم مري او د ګاونډيانو په توغندي بريدونو کې هم. نو هغوی، منتخب ولسمشر او نماينده ګان يې لدې پرته نور څه چاره لري چې راغليو نابللو دوستانو ته خپلې هغه وعدې او ژمنې ور په ياده کړي چې له افغانانو سره يې کړې وې؛

آخر د هغو بهرنيو پوځيانو د ميزباني کولو او يا هم ورسره د پوځي تړون د لاسليکولو به څه ګټه وي چې پخپله يې هم د افغانانو په وژلو لاس پورې کړې دی او نورو ته هم د افغانانو د وژلو ښکاره اجازه ورکړې ده، نه پخپله د افغانستان د پولو دفاع کوي او نه افغان پوځ ته پرمختللې وسلې ورکوي چې پخپل مټ د خپل خاورې د پولو دفاع وکړي، بلکې قصداً د بل چا رحم و کرم ته يې کينولي او د غمونو ډک ژوند تېرولو ته يې اړ باسي. امريکا او ناټو ملګري هېوادو مشران دی دا واقعيت ومني چې د افغانستان ځوريدلې ولس او چارواکي .نور لدې ذليل حالت نه په تنګ راغلي او د صبر کاسه يې تر سوکو ډکه شوې ده، په هر قيمت چې وي لدې سپک او له زغم نه وتلی ژوند نه خلاصون غواړي نو ځکه په پوره جرئت امريکا ته وايي يا دې پخپلو ژمنو وفا وکړي او يا دې هم له افغانستانه د وتلو تياری وکړي. که امريکا له دغو دواړو خبرو نه يوې ته هم غوږ نه ږدي بلکې پر داسې غوښتنو خپل خپګان څرګندوي لکه چې تېره اونی ليون پنېتا د ولسمشر کرزي په دې خبره ژور خپګان ښکاره کړه چې که امريکا د افغانستان اردو ته مناسبه وسله ورنه کړي نو له روسيه، چين او نورو هېوادو څخه به ورته وسله وپيري، نو ددې ښکاره مطلب دا دی چې امريکا افغانستان ته د خپلو نورو موخو د ترسره کولو لپاره راغلې. هغې ته خپلې موخې مهمې دي نه د افغانستان امنيت او استحکام، مګر د امريکايانو دغه پاليسي هېڅ يو افغان ته د منلو نه دی، که څوک پرې خوشالېږي او که خفه کېږي خپل عکس العمل به ورته ضرور ښکاره کوي او تل به دهغه څه په خلاف خپل غږ اوچتوي چې د افغانستان د استقلال، ملي حاکميت او ملت په تاوان وي او هغه څه ته به متې رانغاړي چې د افغانستان زمکني بشپړتيا، استحکام او د ولس ګټې خوندي وي.

عواقب خطرناک تجاوز خارجی بخاک افغانستان

اعزامی

ولایات شرقی افغانستان از چند ماه به اینطرف آماج راکت های تباهکن از آن سوی مرز کشور می باشند، این راکت ها بنابر اظهارات مسؤولین امنیتی و مسؤولین محلی کشور از خاک پاکستان شلیک می شوند و بر خانه های مردم در ولسوالی های هم مرز با پاکستان اصابت می کنند. تا اکنون در اثر شلیک این راکت ها به صدها تن از هموطنان مان کشته و زخمی و هزاران تن دیگر با ترک خانه و کاشانه شان از مناطق سرحدی به مناطق امن تر آواره شده اند. مسؤولین محلی در ولایات کنر، ننگرهار و نورستان از همان روزهای اول، فریاد شان را از بابت آغاز این حملات اعلان ناشدهٔ کشور همسایه بلند کرده اند و به ادارات ذیربط از ادامه و عواقب زیانبار این حملات هشدار دادند. قبل از آنکه ارگان های امنیتی درین رابطه واکنشی نشان بدهند، دولتمردان در موضعگیری های شان گفتند، سعی می کنند که کشور همسایه پاکستان را از مجاری دپلوماتیک حالی سازند تا دست ازین حملات بردارد. برای نیل به این منظور چندین مرتبه هیئت دپلوماتیک پاکستان مقیم کابل را به وزارت امور خارجه احضار و برای ایشان یادداشت اعتراضیهٔ بخاطر حملات راکتی آن کشور به خاک افغانستان تحویل دادند. همچنان سخنگوی وزارت امور خارجه به کرات تهدید کرد، اگر پاکستان حملات راکتی خود در خاک افغانستان را متوقف نسازد، دولت افغانستان ازین بابت به شورای امنیت ملل متحد مستقیماً شکایت خواهد کرد. اسلام آباد در برابر این تحرکات دپلوماتیک افغانستان، هیچگونه اعتنای نکرده و سلسله شلیک راکت های قوای نظامی آن کشور بر مناطق مرزی افغانستان همچنان ادامه دارد. البته ادامه این وضعیت اسباب نگرانی و ناراحتی تمام اقشار و طبقات ملت افغان گردید و همزمان با آغاز نیمه دوم دوره تقنینی پارلمان، وکلای مردم در شورا با این قضیه برخورد جدی کردند و هر دو اتاق شورا بطور مسلسل مسؤولین ارگان های امنیتی و سیاسی را غرض استجواب و استیضاح به پارلمان فراخواندند.

وزیر امور خارجه و رئیس عمومی امنیت ملی در حضور نمایندگان مردم در هر دو اتاق شورا، از کارکردهای خویش در راستای توقف حملات راکتی پاکستان توضیح دادند و گفتند که این دو ارگان در چوکات وظیفوی شان درین رابطه عمل کرده اند، بقول آنها حالا فقط یک راه باقیمانده که رئیس جمهور به مشورهٔ شورای ملی فرمان مقابلهٔ بالمثل را صادر کند که انجام این ماموریت مربوط به وزارت های دفاع و داخله می شود.

وزرای امور داخله و دفاع غرض استیضاح به ولسی جرگه احضار گردیدند، وکلا سوالات شان را در مورد اقدامات نیروهای امنیتی در برابر تجاوز پاکستان، فساد اداری گسترده در درون این نهادها و عدم کار آیی نیروها در برابر تجاوز خارجی و تهدیدهای دهشت افگنی مطرح کردند. پاسخ این دو مقام امنیتی مورد قناعت وکلا قرار نگرفت و مطابق اصولنامه وظایف داخلی، صلاحیت و ادامه کار وزرای دفاع و داخله به استیضاح کشانده شد که در نتیجهٔ رأی سری نمایندگان مردم، هر دو وزیر سلب اعتماد گردیدند. پس از آن رئیس جمهور در هر دو وزارت خانه وزرای جدیدی پیشنهاد کرد و هر دو وزیر پیشنهادی از پارلمان رأی اعتماد گرفتند، ولی اعضای پارلمان درین جریان به وزیر هم رأی اعتماد دادند که یکماه قبل او را سلب اعتماد کرده بودند؟ !

وضعیت سیاسی و نظامی افغانستان در آستانه خروج نیروهای خارجی تا دو سال دیگر طوری است که سوق دادن نیروهای داخلی بسوی یک جنگ فرسایشی در مقابله با یک کشور همسایه در کنار پیکار علیه فعالیت های مخالفین مسلح کار آسانی نخواهد بود. اشتعال دو جنگ همزمان ایجاب فکر عمیق و تصمیم جسورانه را می کند و شاید همین امر باعث شده باشد که سرقوماندان قوای مسلح و شورای ملی تا حال همچو یک تصمیمی را نگرفته اند و تلاش دارند تا معضله را از راه های غیر نظامی حل کنند. هر چند وزرای دفاع و داخله افغانستان اخیراً پس از بازدید مناطق آسیب دیده در ولسوالی های گوشته و لعل پور ولایت ننگرهار اعلان داشتند. در صورتیکه حملات راکتی ادامه یابد، نیروهای دفاعی ما به حملات متقابل متوسل خواهند شد.

اتخاذ رویه کجدار و مریز مسؤولین امنیتی باعث گردیده تا در هر گوشه و کنار فریاد نارضایتی مردم ازین سکوت و بی تفاوتی نیروها بالا بگیرد و مردم در تمام ولایات خصوصاً در ولایات سرحدی با برپایی تظاهرات، آمادگی شان را برای راه اندازی یک قیام ملی در مقابل تجاوز خارجی ابراز نمایند. مظاهره چیان در ولایات کابل، غزنی، کنر، نورستان، ننگرهار و خوست به مقامات حکومت پیشنهاد کرده اند که آماده اند در کنار نیروهای امنیتی کشور برای رفع تجاوز خارجی وارد معرکه شوند. زیرا مسأله تجاوز نیروهای خارجی به مناطق مرزی حقیقتی است که دیگر ضرورت به پنهان کردن آن نیست، چنانکه هم مسؤولین محلی و هم مسؤولین نهادهای امنیتی در حضور نماینده گان مردم با صراحت اذعان داشتند که شلیک راکت ها بخاک افغانستان، از طرف فوج پاکستان صورت می گیرد و آنها با اینکار، دولت افغانستان را در مضیقه می گیرند تا از یکسو در زدو بندهای سیاسی امتیازات بیشتر به پاکستان داده شود و از جانب دیگر به بهانه راندن طالبان پاکستانی از مناطق مرزی زمینه صف آرایی را برای طالبان افغانستان در آن مناطق فراهم سازند تا در آینده با احضارات بالاتر محاربوی به نیروهای امنیتی افغانستان هجوم بیاورند.

هر چند برخورد اولیای امور افغانستان تا اکنون صرف در مستوای محکوم کردن حملات مزبور و یک سری فعالیت های دپلوماتیک بی حاصل خلاصه میشود، ولی مردم مناطق آسیب دیده طی گردهمایی هایی نارضایتی عمیق شان را از ادامه وضعیت ابراز داشته در خطاب به مقامات دولت گفتند: اگر مقامات به داد آنها نرسد، عنقریب با راه اندازی قیام های مردمی پاسخ متجاوزین را خواهند داد. متجاوزین خارجی باید بدانند که مردم غیور و آزادهٔ افغانستان در طول تاریخ بار بار ثابت کرده اند که برای صیانت از استقلال و تمامیت ارضی کشور شان در برابر هجوم اغیار بی تفاوت نمانده و با راه اندازی قیام مردمی بر محور وحدت ملی متجاوزین را جواب دندان شکن داده اند که مثال های زنده آن در تاریخ معاصر، شکست مفتضحانه لشکر انگلیس در اوایل قرن ۲۰ و انسحاب قشون سرخ اتحاد شوروی در اواخر آن، شاهد این مدعا است. بهتر است متجاوزین به استقلال و تمامیت ارضی افغانستان با توجه به دشمن ستیزی افغان ها در گذشته، قبل از آنکه جنگ دیگری درین منطقه مشتعل شود، از اعمال تحریک آمیز خویش دست بردارند.

جوانان و جامعه مدنی

تورن غلام سخی

جوانان که قشر فعال و متحرک در یک جامعه میباشند، در عصر کنونی که اکتشافات و تحولات سریع در تکنالوژی جدید حیات بشری را در راه رشد و تکامل آن بخاطر رسیدن به یک جامعه ایدال و مترقی متبارزتر ساخته است، جوانان درین راستا نقش تعیین کننده داشته زیرا جوانان اند که با خلاقیت و انرژی فکری میتوانند در روند تحولات رول عمده و دقیق داشته باشند.

تحولات سرسام آور و گیج کننده که در جهان کنونی رونما گردیده تاثیرات منفی در اذهان جوان امروزی وارد آورده، جوانانی را که از ساحهٔ تأثیرات تفکرات دینی فاصله دارند، تحت تأثیر قرار داده، و انگیزه های شیطانی مؤلد از عقل گرایی ها و تجربه گرایی ها را در ذهن جوانان جا داده، که ما امروز شاهد میلیونها انسان هستیم که نبود اندیشه های دینی و عدم آگاهی از احکام و دستورات الهی جوانان را متمایل به طرف جوامع لیبرال و دموکرات نموده است.

پخش انگیزه های شیطانی چون امواج رود خانهٔ با استفاده از دستگاه های فریبنده جدید که با فیس بوک ها و انترنت ها از طریق اقمار مصنوعی انسان امروز بخصوص جوانان را سراسیمه ساخته در افکار قشر جوان امواج عاصی را بار آورده است و باعث ایجاد فاصله بین دین و اخلاق گردیده است که هدف از بحث دین، دین رهایی بخش اسلام بوده که با نهاد و طبیعت بشر همآهنگ است، نه ادیان سماوی که تحریف و دست خوش حوادث قرار گرفته اند.

جائیکه بحث از دین مینمائیم اخلاق جز لاینفک و تغییر ناپذیر آن است. دین است که جامعه را با اخلاق و فضایل آن آراسته نموده و سبب اصلاح فرد و جامعه میگردد و آنرا بطرف سعادت رونق و بسوی متعالی شدن سوق میدهد. جوامع که امروز فاقد رسالت دینی و ارزش های اخلاقی شده اند همانا عدم توجه آنها به ارزشهای جاویدانه آئین الهی بوده است. جوامع بدوی که انسانها در آن حیات ابتدائی داشته و با همی زیست می نمودند در آن جامعه از تمام ارزش های اخلاقی و دینی خود حمایت مینمودند. با توسعه تفکر در حوزه تمدن و مدنیت های قدیمی تغییر و تحول در انسان و جامعه هم رونما گردید. انسان که با محیط زیست خویش توافق نموده و تأثیر پذیر میباشد ناگزیر اثرات فرهنگ و تمدن در محیط زندگی آنها رونما میگردد و انکشاف جوامع بالای همدیگر تاثیر طبیعی دارد. جامعه مدنی که از اثر تجمع انسانها در یک محیط مترقی، انکشاف یافته و بافرهنگ عالی و دور از جنگ و خشونت تشکیل می شود همه از تاثیر پذیری تمدنها و فرهنگ های مختلف در حیات بشر است.

جامعه مدنی متراوش از فکر فیلسوفان رومی و یونانی بوده، در اصل بنام جامعه سیاسی یاد میشد، که باگذشت زمان، حوادث تاریخ و تحولات در فرهنگ و تمدن بشری بنام جامعه مدنی مسمی گردیده است...

ادامه دارد

برخی از احکام و معلوماتهای مربوط حج

مولوی محمود درسوال

تعریف حج: حج در لغت به معنی نزد کسی رفت و آمد بسیار نمودن، به یک شی قصد کردن، به دلیل و حجت بر کسی غالب شدن و به نیت عبادت قصد انجام دادن طواف بیت الله شریف است. و در اینجا همین معنای آخر مراد است و در اصطلاح در اوقات مخصوص، در جاهای مخصوص به گونهٔ خاص به انجام دادن اعمال خاص حج گفته میشود.

حکم حج: حج از جملهٔ پنج بناء و ارکان دین مقدس اسلام یک رکن بسیار مهم بوده و در تمام عمر یکبار انجام نمودن آن بر هر یک چنان مرد و زن مسلمان فرض عین است که شرائط انجام نمودن آنرا داشته باشد و کردن آن در همان سالی که شرائط آن برایش مهیا باشد بالایش لازم است وتعطیل آن بسال دیگر گناه است. چنانچه حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم فرموده است.

((من اراد الحج فلیعجل)) ترجمه: ((کسیکه ارادهٔ حج را بنماید (شرائط اداء حج برایش مساعد گردد) پس باید (در اداء کردن آن) عجله نماید)) یعنی باید در اداء کردن آن تأخیر نکند.

همچنین در یک حدیث مبارک دیگر چنین فرموده است: ((تعجلوا الی الحج)) ترجمه: ((برای اداء کردن حج عجله نمائید)).

البته علاوه بر اینکه اداء کردن حج بر هر مسلمان که شرائط حج برایش مهیا باشد فرض عین است به گونهٔ اجتماعی نیز بر همه مسلمانان جهان فرض کفائی است که در هر سال یک تعداد از مسلمانان جهان مناسک حج را اداء نمایند ورنه گناه آن بر ذمهٔ همهٔ شان میباشد.

دلائل فرضیت حج: برخی از دلائل فرضیت حج قرار ذیل است:

۱- آیت مبارک قرآنی: ترجمه: ((و برای الله جل جلاله بر مردم حج خانهٔ کعبه حق (فرض) است، بر آن کسیکه توان رفتن به آن (کعبه) را دارد و هر آن کسیکه کافر شود (از تعمیل این امر انکار ورزد پس وی به این بداند که) بیشک الله جل جلاله از عالمیان بی نیاز است))

۲- حدیث مبارک نبوی: ترجمه: ((اسلام بر پنج (بناها) بناء کرده شده است (که آن بناء ها این است) شهادت دادن بر اینکه غیر از الله تعالی دیگر هیچ معبود برحق نیست و (شهادت بر) اینکه بیشک محمد صلی الله علیه وسلم (بنده) و پیامبر الله جل جلاله است، اداء کردن نماز، دادن زکات و (اداء نمودن) حج بیت الله و گرفتن روزهٔ (ماه مبارک) رمضان)).

۳- اجماع امت: تمام امت حضرت محمد صلی الله علیه وسلم بر این (حکم) اتفاق دارند که اداء کردن حج بر هر آن مرد و زن فرض است که شرایط حج را داشته باشد. یعنی شرائط اداء کردن حج برایش مساعد باشد. همچنین در مورد فرضیت حج دیگر آیتهای مبارک قرآنی و احادیث مبارک نبوی و دیگر دلائل نیز موجود است اما در اینجا به سبب قلت گنجایش به همین دلایل فوق اکتفاء مینمائیم.

وعید و مجازات نه کردن حج:

چنانچه در اداء کردن حج فضیلت ها، حکمت های گوناگون و ثواب های زیادی هست بالمقابل نه کردن و ترک نمودن حج یک عمل غیر اسلامی، ناشایسته و گناه بزرگی است، حتی که تغلیظاً بر آن اطلاق کفر شده است چنانچه از آیت مبارک و احادیث متبرک ذیل و دیگر دلائل ثابت و معلوم میگردد:

اول: آیت مبارک: ترجمه: ((و بر مردم برای الله تعالی حج خانهٔ کعبه حق (فرض) است، بر آن کسیکه توان رفتن به آن (کعبه) را داشته باشد و هر آن کسیکه کافر شود (از تعمیل این امر انکار ورزد پس وی به این بداند که) بیشک الله تعالی از عالمیان بی نیاز است.))

در آیت مبارک فوق نکردن حج کفر دانسته شده است. البته اگر نکردن حج از روی انکار باشد، پس انکار از فرض واقعاً کفر است، اما اگر کسی از آن منکر نباشد مگر بدون وجود کدام عذر شرعی و مانع آنرا اداء نمی کند این همچنان گناه بزرگی است که تغلیظاً کفر دانسته میشود.

دوم: احادیث مبارک: ۱- حضرت ابی امام رضی الله عنه روایت کرده است که حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم چنین فرموده است: ترجمه: ((هر آن کسیکه آنرا حاجت آشکار (فقر، نیازمندی و کدام ضرورت) یا بادشاه ظالم یا مریضی بند کننده (مریضی مانع حج کردن) از اداء کردن حج منع نکند و در حالی بمیرد که حج را اداء نکند، پس وی اگر خوش باشد یهودی بمیرد و اگر خوش باشد نصرانی بمیرد)). یعنی اگر بدون کدام عذر شرعی و مانع حج را اداء نکند و بمیرد وی چنان است که گویا مسلمان نبوده بلکه یهودی یا نصرانی باشد.

۲- حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما گفته است که حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم فرموده است: ((لاصرورة فی الاسلام)) ترجمه: ((در اسلام صرورت (نه کردن حج و نکاح) نیست))

یعنی کردن حج و نکاح از اخلاق و احکام اسلامی است و بدون وجود کدام عذر شرعی نکردن آن از اخلاق و عادات راهبان نصرانی بوده و در اسلام ممنوع میباشد.

تجربه

دوکتور عبدالوهاب "حسام"

نهمه برخه
(تېر پسې)

درویشتمه تجربه: د تیرې روژې د مبارکې میاشتې د ختمیدو نه څو ورځې وروسته، سهار وختې د کوره راروان شوم، د سهار چاې مې هم و نه څکلې، د درې ساعته سفر نه وروسته کابل ته را ورسیدم، د ناشتې لپاره مې واره پیدا نه کړه، او په همدې ډول د غرمې د ډوډۍ نه هم پاتې شوم، څلور بجې چې خپلې کوټې ته راغلم ډیر زیات وږې وم، بیا هم ډوډۍ نه وه؛ ځکه غرمه تیره وه او د شپې لپاره نانوایانو لا شروع نه وه کړې، نو د دې لپاره چې ولږه مې ختمه شي یو شی او بل شی مې و خوړ، خو ولږه مې ختمه نه شوه، بیا بیا مې څه شیان و خوړل خو ولږې قسم و کړ چې زه به ولاړه نه شم، او په اخیر کې ولږه په خای پاتې وه او د معدې په تکلیف اخته شوم، بیا ډاکتر ته ولاړم او دوا مې واخسته، له ما سره سوال دا و چې ولې زما ولږه ختمه نه شوه او ولې مریض شوم؟ وروسته دې نتیجې ته ورسیدم چې زه خو د عادت له مخې ډوډۍ خورم او نن مې د سهر نه تر اوسه ډوډې و نه خوړه او هغه څه مې و خوړل چې زه ور سره عادت نه وم او بله دا چې ډیر مې و خوړل، نو له دې امله مریض شوم او که فرضا یو مړې ډوډۍ پیدا شوی وایې نو زما ولږه به حتمي او ضروري ختمه شوي وایې او مریض شوی به هم نه وایې، نو داسې ښکاري چې ماته چې کوم تکلیف راپیښ شو ددې لامل دا و چې ما دعادت مخالفت و کړ، نو ګوره چې د عادت خلاف کار انسان ته دومره ضرر رسوي، نو که یو سړی د فطرت (دین) مخالفت وکړي دا خو به حتمي او ضروري د ډیرو ستونزو سره مخامخ کیږي.

رښتیا چې نن سبا ډیرې خلک په داسې مرضونه اخته دي چې د علاج نه یې نړیوال عاجز دي، څوک چې په ایډز اخته دي دوی خو د فطرت خلاف کارونه کوي، ما په یو اخبار کې لوستلي چې یو سړي د شپیتو کالو په عمر دوه پنځوس ودونه کړي خو د هیڅ ډول ناروغۍ سره نه دی مخ شوي، دا ځکه چې هغه د فطرت خلاف کار نه و کړی ټولې ښځې یې په شرعي نکاح سره کړې وې، خو بر خلاف یو سړی له دوه یا زیاتو ښځو سره د غیر شرعي لارې یو ځای کیږي بیا سمدستي په ایډز اخته وي او پایله یې ډیر بې عزته مرګ وي. دا زما د احوال شخصي مضمون د لومړي درس مقدمه وه.

څلور ویشتمه تجربه: قرآن کریم او احادیث ګواه دي، چې د اسلام مقدس دین انسانان تدبر او تفکر ته را بللي، مبالغه او غلو نه منې او په عاطفوي باورونو او کړنو اتکا او اکتفا نه کوي؛ دا ځکه چې دین د ژوند د هر اړخیز سمون لپاره یواځینی لاره ده او عاطفه سمون نه شي راوړلی، دا له یوې خوا، او له بلې خوا عاطفه، ثبات، استقامت او دوام نه لري، عاطفه یو نوعه موقته قرباني ده چې انسان یې د یو څا د یو خصوصیت له امله په ځان منې. د بیلګې به توګه کله چې یو سړي ته خوان هلک او دریږي او د یو څه غوښتنه ترې و کړي، نو د دې خوان هلک دا ځواني او تازګي، په مقابل جانب کې عاطفه را و پاروي او د هغې د غوښتنې ځواب ته یې په غیر د کوم تدبر او تفکر نه چمتو کوي، او یا دا چې د دې ځوان هلک همدغه خوصوصیت د مقابل جانب سترګې داسې ور پټې کړي چې ډیر داسې مسئولیتونه ور و سپاري چې هغه ځوان یې جوګه نه وي. خو دین داسې نه دی، بلکې دین یو دوامدار مسئولیت دی، د هر چا وندې په کې د هغه د توان او طاقت په کچه معلومه ده، امانتونه اهل خلکو ته سپارې، عبادت او استراحت، امساک او خوراک په کې یو شان روان دی، د قربانۍ او نه قربانۍ ورکولو وختونه او حالت په کې ډیر ښه ښکاره او واضحه دي.

زما تجربه دا ده چې، په یو پوهنتون کې مې د موټر لپاره کارت جوړولو؛ تر څو د هغه پوهنتون د موټرو د تمځای څخه استفاده و کړم، کله چې دفتر ته ورغلم نو هلته یو مامور ناست و او تلاوت یې کاو، سلام مې هم وا نه چولو، خو په ځنې حرکاتو مې سړی خاته متوجه کړ، هغه تلاوت پریښود او ما ته یې و ویل: خدمت؟ ما ورته و ویل: د موټر لپاره مې کارت په کار دی، هغه وعده راکړه چې دا کار به و کړي؛ بیا بیا مې ورته مراجعه و کړه، همدا سړی به ناست و، ما ته به یې ویل: و به شي، خدای یې کوي، و به شي خدای یې کوي. زه به حیران شوم چې دې ته اوس څه و وایم، په دې کې خو شک نشته چې الله یې کوي، خو مونږ خو به د عالم اسباب نه کار اخلو که نه؟ که عالم اسباب ته ضرورت نه وای، نو الله پاک ولې مریم علیها السلام ته د خورما وني د خوزولو امر کولو، بي بي هاجره ولې په صفا او مروه کې منډې وهلې او موسی علیه السلام، ولې تیره په امسا وهله؟ دا ټول مونږ ته داسې درس راکوي چې باید حرکت و کړو او ځان په تکلیف کړو، تر څو نتایج خلکو ته وړاندې کړو نه معذرتونه.

خدای شاهد دی چې څو ځلې مې دا نیت و کړ چې دی راهب ته و وایم: الله تعالی ولې ملاُمتوې؟ الله چې کوم کار کوي وخت ته ضرورت نه لري، هغه یې په (کن) سره کوي، او دا هم ورته و وایم چې الله ته ولې دومره سپک ګوري او شان یې دومره را ټیټوي چې اوس به تا ته د موټرو کارتونه جوړ وي؟ تاته یې لاس او پښې د څه لپاره در کړي؟ او چې هر څه په خدای کوي نو ته دا معاش د څه لپاره او په کوم حق اخلې؟ مګر له دې و ویریدم چې اوس به را باندې د کفر تاپه و لګوي او راته به ووایي: آیا ته دا نه منې چې الله پاک هر کار کوي، خلاصه دا چې تر اوسه هغه کارت یې جوړ نه کړ.

په تقوا او زهد کې د مبالغې یوه بیلګه، یوه ورځ مې د سهار د لمانځه جمعه ور کړه، د لمانځه په یو رکعت کې مې د سورت تحریم دولسم آیت چې ژباړه یې داسې ده ولوست. (او د عمران د لور مریم مثال راوړي چې هغې د خپل شرمځای ساتنه کړې وه، بیا مونږ په هغې کې له خپل لورې نه روح پو کړ، او هغې د خپل رب د لارښوونو او د هغه د کتابونو تصدیق و کړ او هغه د اطاعت کوونکو خلکو څخه وه.) کله چې د لمانځه نه خلاص شوم، زمونږ یو دوست رښتیا چې ډیر زاهد او متقي سړی و، را ته و ویل: دا آیتونه بیا په لمانځه کې و نه لولې، ما ورته و ویل ولې؟ هغه و ویل ځکه چې په دې آیتونو کې د (فرج) کلیمه راغلې او د دې یادول ښه نه ده، ما ورته و ویل: که یاد یې ښه نه وای نو الله ولې یادولو؟!

(نور بیا)

محترم استاذ! ملت تاته د امید سترګې نیولي دي

(د لومړۍ مخ پاتې برخه)

...ګوزار لاندې نیولې دی. ډیری استاذان داسې دي چې هغوی خپل مسؤولیت په صحیح معنی نه ترسره کوي، له شاګردانو سره مناسب او لازم کوښښ نه کوي، دهغوی د حاضرۍ او غیر حاضرۍ په غم کې نه دي، کورنی وظیفه ورته نه ورکوي، د شاګردانو د ذهني ودې او ارتقا لپاره هیڅ پروګرام په کار نه اچوي، لږ تر لږه دومره خواري ورسره هم نه کوي چې د کتاب د عبارت په لوستلو قادر شي.

ما پخپلو سترګو لیدلې دي چې د شپږم او اووم ټولګې زیاتره شاګردان د کتاب ساده عبارت او د قرآن کریم دوه کلیمې هم نه شي لوستلی، په جمع تفریق، ضرب او تقسیم په سوالونو نه پوهېږي، ان ډېرو زده کوونکو ته کلمه او لمونځ هم په یاد نه دی په داسې حال کې چې د ښوونځي په نصاب کې قرآن کریم او اسلامیات په سر کې ځای لري.

زما خپل څلور ماشومان په ښوونځي کې زده کړې کوي چې درې د څلورم ټولګي او یوې د شپږم ټولګي شاګرد دی، سره له دې چې په ښوونځي کې زما څلور واړه ماشومان اول نومره دي خو لیاقت یې صفر دی، که لږ غوندې لیاقت هم لري هغه په کور کې زما او زما د مشرې لور د خوارې او زیار نتیجه ده، که زموږ خواري او زیار نه وي زما ماشومان به یواځې د ښوونځي په استاذانو دوه کلیمې هم ونه لوستلې شي او نه به هم په جمع تفریق او ضرب په سوالونو پوه شي. تېر کال ما له خپلو ماشومانو پوښتنه وکړه چې ضرب زباني چاته په یاد ده؟ ټول غلي شول، پوښتنه مې وکړه آیا استاذانو تاسو ته ضرب زباني نه ده ښودلې؟ ټولو په یوه خوله وویل چې نه، تر لسو پورې مې ضرب زباني ورته په کتابچه کې ولیکل او په څو ورځو کې مې ورباندې یاد کړ، له هغې وروسته د تقسیم او ضرب د سوالونو په حلولو هم وپوهېدل.

متأسفانه لکه څنګه چې زموږ د هېواد په نورو ارګانونو کې فساد او درغلې خپله لمنه غځولې همداسې د پوهنې په ډګر کې هم ګڼ استاذان د فساد تر ګرغېړن سیورې لاندې راغلي دي، د استاذی مقدسه دنده په سمه توګه نه ترسره کوي، د کتاب له مخې درس ورته وایې خو دهغه د تشریح زحمت نه وباسي او د لغت پر معنی یې نه پوهوي، ماته ښه یاد دي چې موږ به د لغتونو لپاره جلا جلا کتابچې درلودې او په هغې کې به مو د هر درس لغتونه او معنی ګانې لیکلې او په یادو مو یادولې، مطلب دا چې د هر کتاب لپاره به مو جلا جلا کتابچه درلوده او ټول مهم یادابښتونه به مو پکې نوټ کول خو په اوس وخت کې دا دود له منځه تللې، پخوا به د خوشخطي خانله یو ساعت و چې زده کوونکو ته به خوشخطي ښودل کېده خو اوس ماشومان نه خوش خطي پیژني او نه هم ښې لیکنې کولې شي، همدا لامل دی چې د اوسنی وخت زیاتره دولسم پاسان او شپاړلسم پاسان داسې خطونه لیکي چې له هغوی پرته بل څوک یې نه شي لوستلی. یوه سهار له خپل کوره د دفتر په لور روان وم، یو استاد خپل کلیوال ته وویل: ډېر وخت کېږي ستا زوی ښوونځي ته نه راځې ناروغ دی که څنګه؟ هغه ورته په ځواب کې وویل: ما منع کړې دی نور نه غواړم زما د زوی ژوند په ښوونځي کې ضایع شي، هغه بله شپه مې ترې پوښتنه وکړه چې زویه په کوم ټولګي کې درس وایې راته یې وویل په شپږم ټولګي کې ما ورته وویل لمونځ درته درځي؟ وېې ویل: نه، پوښتنه مې ترې وکړه چې قرآن کریم لوستلی شې؟ ویل یې نه شم لوستلی، ورته مې وویل نور به ښوونځي ته نه ځې، هغه شاګرد چې شپږ کاله ښوونځي ته لاړ شي او لږ تر لږه لمونځ پکې زده نه کړي او د قرآن کریم په لوستلو قادر نه شي دداسې ښوونځي ویلو څه ګټه؟! ولې مسجد ته یې نه لېږم چې له امام نه لمونځ، د توحید کلمه او د قرآن کریم تلاوت خو زده کړي چې ما لپاره په آخرت کې د ثواب ذریعه وګرځي.

د افغانستان ولس د پوهنې وزیر دهغو کوښښونو د زړه له کومې مننه کوي چې د هېواد په ګوټ ګوټ کې د ښوونځیو، لیسو او دارالمعلمینو په جوړولو کې ترسره کړي خو ددې تر څنګ دا هیله هم تر ښه کوي چې د درسونو د ښه معیار او ښه تدریس په اړه هم نه ستړې کېدونکې ګامونه اوچت کړي ځکه چې تر څو پورې د درس او تدریس معیار ښه نه شي او زده کوونکي پخپلو درسونو لاسرسې پیدا نه کړي د ښوونځیو او لیسو زیاتوالې هیڅ ګټه نه لري، اوسنی زمانه د ساینس او ټکنالوژۍ زمانه ده، هغه ولسونه له دې نعمته برخمن کیدلې شي چې پرخپل دین د پوهېدو ترڅنګ په ریاضي، فزیک، کیمیا، انګلیسي، هندسه او نورو عصري اوضروري علوموکې هم بشپړ مهارت پیداکړي، کله چې نورو هېوادو ته د لوړو زده کړو لپاره لاړ شي د زده کړې او یادولو ښه کافي قابلیت ولري ترڅو ښه ډاکټر، ښه انجنیر، ښه اقتصاد پوه، ښه ښوونکی اوښه سیاست پوه ترې جوړ شي.

زه په سلو کې سل یقین او باور لرم چې د پوهنې مستعد او ځوان وزیر چې د کار کولو اهلیت یې له هېچا پټ نه دی په ډېر لږ وخت کې به د درسونو د معیار د ښه کولو د کامیابۍ څهره هم په سر کړي او د هېوادوالو د هیلو غوټۍ به وغوړوي.

استاد چې د ټولنې تر ټولو محترم او عزت من غړی دی هم مسؤولیت لري چې خپل دغه اسلامي او ملي دنده په ډېر صداقت، امانت او دیانتدارۍ ترسره کړي، هر زده کوونکی ته د خپل زوی په څېر وګوري او هومره کوښښ دی ورسره وکړي څومره چې له خپلو اولادو سره یې کوي، هومره مینه دې ورته ورکړي څومره چې خپلو زامنو او لونو ته ورکوي، هومره همدردي او عاطفه دې ورسره وکړي څومره چې له خپلو نازولو بچیانو سره کوي، په حقیقت کې هر چا خپل اولادونه د استاد د تعلیم او تربیې غیږې ته حواله کړې دی او په همدې هیله او ارمان خپل اولادونه ښوونځیو ته لیږي چې هلته د مهربانو او مشفقو استاذانو د تربیې او روزنې په مدرسه کې علم، اخلاق او ادب ترلاسه کړي، د ټولنې یو فعال او خدمتګار غړی وګرځي، د خپل ولس او خاورې د هوساینې او پرمختګ لپاره کار وکړي او د نورو له محتاجۍ نه یې وساتي، د افغانستان د مسلمان ولس دغه ارمان یواځې او یواځې ددې خاورې همدرد، مخلص او رښتونی استاذان ترسره کولی شي او د ټول ولس د امید سترګې هم همدوی ته اوړي، د علم او پوهې ترلاسه کول او بیا خپل نسل ته د هغه انتقالول جاریه صدقه ده او د قیامت تر ورځې پورې ددې ثواب ورته ورکول کېږي، ددې برعکس د علم پټول او بل چاته نه ښودل لویه ګناه ده او د قیامت په ورځ د علم پټوونکی عالم خولې ته د اور قاعده اچول کېږي.

زمکني حقایق دا په ګوته کوي چې کومو ولسونو له تعلیم، تدریس او زده کړې سره مینه کړې او خپل اولادونه یې د علم او پوهې په ګاڼه سنبال کړي دي هغوی د قومونو سرداران جوړ شوي دي. که موږ د افغانستان مسلمان ولس هم واقعاً د محتاجۍ او غلامۍ له ژوند څخه خلاصون او پخپلو پښو ولاړ ژوند غواړو نو لدې پرته بله لاره نشته چې د علم او پوهې ارزښت او قیمت په تمامه معنی وپیژنو او په دې لاره کې استاذان هم خپل ټول توان ونه سپموي او د زده کوونکو مور او پلار هم د هیڅ ډول غفلت ښکار نه شي. د علم د ترلاسه کولو لپاره به یو بل ته د مرستې لاسونه ورکوي او په ګډه به خپل اولادونه د علم په وسله سنبالوي.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

درې هېوادونه د افغانستان په خوندي ساتلو کې مرسته کولای شي

ډیلي ټیلگراف ورځپاڼې په خپله وروستۍ گڼه کې، درې سترهیوادونه چې د افغانستان په خوندي ساتلو کې مرسته کوي د روسیې، هند او ایران نومونه اخیستي او لیکي، کله چې ناټو له افغانستانه ځواکونه باسي باید له دې ونه ویریږي؛ چې له روسیې، ایران او هند څخه د مرستې غوښتنه وکړي.

د ورځپاڼې په وینا د افغانستان د مسألې اسانه حل لاره نشته او ناټو باید د مرستې له غوښتنې ونه ویریږي.

د مقالې لیکوال نوي یمې لسیزې ته اشاره کوي او لیکي، کله چې طالبان په افغانستان کې راپورته شول، د هند، روسیې او ایران مثلث د طالبانو له مخالفینو سره چې د شمال ټلواله ډله وه، مرسته کوله.

د ډیلي ټیلگراف ورځپاڼه لیکي، د امریکا متحدو ایالتونو کلونه کلونه هڅه وکړه؛ چې په افغانستان کې د هند د مداخلې مخه ونیسي، ځکه د هند مداخله د پاکستان حساسیت راپاروي. له بلې خوا ایران سره له دې چې له طالبانو سره خواخوږي نه لري؛ خو د راپورونو له مخې دا هېواد اوس دغو وسله والو ته وسلې ورکوي او د هغوی لپاره د روزنې امکانات برابروي.

د لیکوال په باور له ناټو سره د روسیې اړیکې هم خرې پرې دي.

ډیلي ټیلگراف وړاندې لیکي؛ ټولو دغو مسایلو ته په پام سره، د طالبانو په کمزورې او د افغانستان په امن کولو کې د هند، روسیې او ایران د مثلث اساسي گټې نغښتې دي.

گارډین:

بریتانوی گارډین ورځپاڼې هم د افغانستان په اړه یومطلب خپور کړی او لیکي، په افغانستان کې په ځینو مواردو کې د اوضاع خرابوالی حیرانونکی نه دی.

گارډین لیکي، په داسې حال کې چې د لویدیځو هیوادونو عسکر له افغانستانه د وتلو نیت لري، هیڅ داسې یوه میاشت به نه وي، چې یو مسوول مقام په افغانستان کې خپل انتظارات کم ونه ښیي.

ورځپاڼې د ناټو د عمومي منشي انډرس فوگ راسموسن د تیرې اوونۍ څرگندونو ته اشاره کړې؛ چې ویلي یې وو، د ناټو عسکر ښایي له ټاکلي نیټې مخکې له افغانستانه ووځي.

ورځپاڼې همداراز په کابل کې د بریتانیا د سفیر ریچارډ سټگ په حواله لیکي؛ چې ویلي یې دي، غرب د افغانستان حکومت ته په کافي اندازه د مرستې لاس غزولی او اوس د کابل په حکومت پورې تړلې ده؛ چې د افغانستان چارې پرمخ یوسي.

گارډین وړاندې لیکي، اتلس میاشتې پاتې دي، چې د جمهوري ریاست په راتلونکو انتخاباتو کې د درغلي د تکرار مخنیوی وشي، د ورځپاڼې په وینا په دې برخه کې ناکامي به دا هیواد چې فساد او سمتگرایي په کې زیات دی، د کورنی جگړې پر لورې بوځي. په تیره بیا که ولسمشر کرزی وغواړي چې د اضطراري حالت په اعلانونو سره ځان په قدرت کې وساتي.

دهېواد شمال ته دځوانانو د یو پلاوی...

دچارو دپرمختگ اویوې ښې راتلونکې په موخه خبرې اترې ترسره شوې، په دغو ناستو کې هغه کسان ډیرخوښ بریښیدل چې تردې مهاله یې دحزب اسلامي افغانستان له مرکزي اویاهم ولایتي دفتر سره اړیکې نه درلودې.

په کندز ولایت کې تراوو ورځو تم کیدو ورسته دځوانانو یاد پلاوی دبدخشان په لورې روان شو. بدخشان ته له رسیدو وروسته د تلې یامیزان په لومړۍ نیټه ددغه ولایت په مرکز کې دځوانانو ترمنځ ټاکنې ترسره شوې چې په دغوټاکنو کې دځوانانو ولایتي رئیس، مرستیال، دځلورگونو کمیټو او ۱۷ولسوالیو مسؤلین وټاکل شول.

ددې ترڅنگ په بدخشان ولایت کې دځوانانو دکاري پرمختگ په موخه له ځوانانوسره ځانگړې ناستې ترسره اوددغه بهیر دپرمختگ په موخه په لازمو او غوره لارو چارو بحثونه وشول.

یاد پلاوي په بدخشان ولایت کې دیو شمیر شهیدانو له کورنیو سره هم لیده کاته وکړل، چې په دغولیدنوسره دشهیدانو کورنیو غړي ډیرخوښ اودحزب اسلامي افغانستان ددې پلاوي په ورتگ سره یې دپوره ډاډ اونه هېرېدو څرگند احساس کا و.

دادهیواد شمال ته دحزب اسلامي افغانستان دځوانانوټولنې دځلورکسیزه پلاوي اوږد سفر دی چې په دې وروستیو کې ترسره کیږي. په دغه سفر کې دځوانانو ټولنې د مشر ډاکتر عمرخیل په مشرۍ، څارنوال متقي، قاضي شهاب او قاضي حمیدي گډون درلود.

له تخار څخه وروسته یاد پلاوی بغلان ولایت ته خپل سفر پیل کړ، او دهغه ځای له قومي مشرانو، ځوانانو او یو شمیر دیني عالمانو سره غونډې وکړې او پرگڼو مسائلو ورسره خبرې اترې ترسره شوې. ددې ترڅنگ دبغلان ولایت نهرین، دوشي، اومرکزي بغلان ولسوالیو ته هم سفرونه ترسره شول.

له بغلان څخه وروسته یاد پلاوی دسمنگانو ولایت ته لاړ اوپه دغه ولایت کې دځوانانو ترمنځ ټاکنې ترسره شوې چې دټاکنو له مخې دځوانانو ولایتي رئیس او دولسوالیو مسؤلین وټاکل شول په سمنگانو ولایت کې له جهادي قوماندانانو، قومي مشرانو اوځوانانوسره دبیلابیلو موضوعاتو په اړه ناستې ترسره شوې.

سمنگان ددغه اوږ دسفر ورستی ولایت و په دغه یو میاشتني سفرکې دهیواد په شمالي پنځو ولایتونوکې ځوانان تریوې کچې منظم او دکارونو دتنظیم په موخه ورته لازمې مشورې ورکړی شوې، ددې سفر په برکت دهیواد دشمالي و لایتونو سلگونو ځوانانو دحزب اسلامي افغانستان له مرکزي او ولایتي دفترونوسره اړیکې ټینگې شولې. چې له دې ورسته به په منظم ډول له ولایتي دفترونو سره په تماس کې وي. دغه سفردوړې په ۱۷ مه پیل او دتلې په ۱۸ مه پای ته ورسید.

دیادونې وړده چې دځوانانوټولنه دهیواد ختیځ، لویدیځ اوجنوب لورته دورته سفرونو هوډ هم لري چې إن شاء الله تعالی په نیږدې راتلونکې کې به ترسره شي.

په بدخشان کې د حزب اسلامي د ولایتي شوری غړیو غونډه

د ځوانانو د ټولنې پلاوی د شهید مولوی خردمند په کور کې

د کندز په ولایت کې د ځوانانو د ټولنې رئیس ټاکل کېږي

عبدالهادی ارغندیوال برای یک ...

لازم به یادآوری است که در اساسنامهٔ حزب اسلامی افغانستان، برای انتخاب رئیس حزب اسلامی، دو طریقه تجویز شده است: یک آنکه اعضای شورای رهبری، بدون آنکه کسی برای پست ریاست حزب کاندید شود، یکنفر را از جمع اعضای مجلس مؤسسان به ریاست حزب انتخاب می کنند. ثانیاً مجلس مؤسسان از جمله اعضای خود یک یا چند نفر را غرض اخذ رأی به شورای رهبری نامزد می کند و اعضای شورای رهبری به یک نفر رأی می دهد و هر کسی که بیشترین آراء را کسب کرد به صفت رئیس حزب اسلامی انتخاب می گردد.

در قدم اول نام های اعضای شورای رهبری توسط یک عضو کمسیون نظارت بر انتخابات به ترتیب قرائت گردید، هر یک بالنوبه در محل رأی دهی تشریف برده، با درج امضای خود در لیست مخصوص، کارت رأی دهی را حاصل و پس از نشانی فرد مورد نظر در کارت، آن را در صندوق آراء می انداخت. پس از ختم پروسه رأی دهی، کمسیون در معرض اعضای شورای رهبری برای پانزده دقیقه آراء را شمردند و در نتیجه عبدالهادی ارغندیوال با کسب دو ثلث آراء اعضای موجود شورای رهبری به صفت رئیس حزب اسلامی انتخاب گردید.

پس از اعلان نتیجه انتخابات، ناظم جلسه از جناب ارغندیوال صاحب دعوت نمود تا عقب مکروفون تشریف آورده و نکته نظرات خود را به صفت رئیس حزب اسلامی برای یکدورهٔ دیگر اظهار نماید. رئیس حزب اسلامی پس از ذکر ثنا و صفت پروردگار و دورد و سلام به پیامبر برحقش و یادی از قربانی های شهیدان و فداکاری های مجاهدان، از اعتماد اعضای شورای رهبری در انتخابش برای بار سوم در پست ریاست حزب اسلامی اظهار سپاس کرد و ضمن ایراد سخنانی آگنده از احساس و عاطفه، وعده سپرد که در دورهٔ آینده نیز کما فی السابق مساعی بخرچ خواهد داد تا در کار اداره و رهبری امور حزب با اخلاص، صداقت و پشتکار تلاش نماید.

پس از آن رئیس حزب اسلامی، اسمای ۳۶ نفر از اعضای شورای رهبری حزب اسلامی را قرائت کرد و به اعضای شورا تأکید کرد که از جملهٔ این لیست که نزد هر یک شما است، به ۲۱ نفر آنها رأی بدهند و آنهائیکه ازین جمع بیشترین آراء را بدست بیاورد، به عنوان اعضای شورای اجرائیه با بنده در پیشبرد امور حزب اسلامی همکاری خواهند کرد.

جریان رأی دهی به اعضای شورای اجرائیه پایان یافت و کمسیون نظارت بر انتخابات با جمع کردن اوراق رأی دهی، جریان جلسه را مختومه اعلان کرد و محفل حوالی ساعت ۱۲:۴۰ بعد از ظهر با دعائیه مولوی صاحب سرفراز خاتمه یافت. شمارش آراء توسط کمسیون نظارت، پس از ظهر همان روز تا حوالی نیمه های شب خاتمه یافت و یک روز بعد رئیس حزب اسلامی با علان ۲۱ نفر از اسمای درج لیست که بیشترین آراء را کسب نموده بودند به عنوان اعضای شورای اجرائیه معرفی شدند.

ناگفته نماند که بنابه پیشنهاد رئیس حزب اسلامی و موافقه شورای رهبری آمریت های تنظیم جوانان و تنظیم زنان حزب اسلامی نیز پس ازین عضویت شورای اجرائیه را حاصل نمودند.

قابل ذکر اینکه اعضای شورای اجرائیه سابق حزب اسلامی همه به عضویت شورای جدید القا شده اند و علاوه از آنها چند نفر از چهره های جدید به عضویت این شوری اضافه گردیده اند.

درگذشت یکی از چهره های تابناک ...

در داخل و بیرون از فضای زندان به دروس دینی تشویق و آنها را حافظین قرآن تربیه نمود و صدها جوان خداپرست و مجاهد دیگر را بطرف سنگرهای داغ جهاد سوق نمود.

قاری ضیاء الدین حافظ حلیم و دانشمند فقیه بصفت امام و مربی دلسوز دوران هجرت و جهاد در مدارس مختلف اجرای وظیفه نمود. تا اینکه با بمیان آمدن حکومت مؤقت بصفت عضو شورای تحقیقات اسلامی وزارت حج و اوقاف تعیین و در ضمن آن عضو شورای علمای افغانستان انتخاب گردید.

تا آخرین لحظهٔ عمر که به مکه مکرمه جهت ادای فریضه حج میرفتند وظیفه امام جماعت را در یکی از مساجد بزرگ شهر کابل به عهده داشتند. این داعی بزرگ بعد از سالها مجاهدت، مبارزه و فداکاریها و قربانی های بیدریغ در راه خدا و وطن در جریان ادای فریضه حج در مکه مکرمه با افتخار داعی اجل را لبیک گفت و به دیار باقی شتافت. (انا لله و انا الیه راجعون)

حزب اسلامی افغانستان مراتب همدردی و تسلیت خود را نسبت درگذشت این داعی بزرگ و امین ندای وحی به کافه امت مسلمه بخصوص فامیل ارجمند شان عرض نموده و از خداوند متعال برای مرحومی بهشت برین و برای بازگاند گانشان صبر جمیل استدعا مینماید.

د بټي کوټ په ولسوالي کې ...

پخپلو کې متحد دي خو سالمې رهبرۍ ته ضرورت لري.

وریسې حاجي صاحب صدیق خپله وینا برخه والو ته واوروله، نوموړي وویل: د بټي کوټ ورونو له پیل نه قرباني ورکړی خو له ټولو امتیازاتو نه بې برخې دي.

بیا د حزب اسلامي ولایتي دفتر مسؤول معلم صاحب عبدالعلي خبرې وکړی او د حزب اسلامي ټول ورونه یې خپلو مسؤلیتونو ته متوجه کړل او ویې ویل:

په ولسونو کې دعوتي او فکري کار په کار دی تر څو سالمه ټولنه رامنځته شي او د اسلامي حکومت د قیام ارمان مو پوره شي.

وروسته د ځوانانو د ټولنې په نمایندگۍ سائل خان غونډې ته خپله وینا واوروله، او ځوانان یې خپلو دیني او ملي مسؤولیتونو ته متوجه کړل.

وریسې د علماؤ د څانگې مسؤول مولوي صاحب فضل الرحیم خپله عالمانه وینا واوروله او ویې ویل: دا الهي امر دی چې مسلمانان پخپلو کې یو موټی شي او د یو امیر تر اطاعت لاندې خپل ژوند تیر کړي.

آخر کې د بټي کوټ ولسوال خبرې وکړې او د حزب اسلامي له ورونه نه یې په بټي کوټ کې د امنیت د ټینگولو لپاره د ملاتړ غوښتنه وکړه.

غونډه د مولوي صاحب حزب الله په دعائیه پای ته ورسېده او بیا په مشترک ډول د حزب اسلامي سیمه ییز دفتر ته لاړل او د حزب اسلامي لوحه یې هلته نصب کړه.

امریکا د منفي تبلیغاتو له لارې ...

لویشت هم له خپلو ملي گټو څخه تیر نشي:

"د امریکا متحده ایالات له هغو رسنیو نه په گټې اخیستنې، چې په واک کې یې لري د امنیتي ستراتیژیک سند ترلاسه کولو ته خپل ټول پام اړولی دی.

د بحران د نړیوالې ډلې خپور شوی راپور هم له همدې ډول راپورونو او تبلیغاتو څخه دی، چې په افغانستان کې د موجودو واقعیتونو پر خلاف دی".

ده وویل، چې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر له امریکایي اړخ سره د دې امنیتي سند په اړه خبرې اترې کوي او د دې سند د لاسلیک کیدو لپاره د ښاغلي فردوس په خبره تبلیغات نه بلکې خبرو او بحثونو ته اړتیا شته.

د افغانستان او امریکا ترمنځ د اوږد مهاله ستراتیژیکو همکاریو د امنیتي سند په اړه لومړنی خبرې اترې څو ورځې مخکې په واشنگټن کې وشوې، افغان حکومت پردې سند ټینگار کوي، خو ولسمشر کرزي څو ورځې وړاندې څرگنده کړه که چیرې امریکا افغان ځواکونه تجهیز او سمبال نه کړي ستراتیژیکې اړیکې معنی نه لري.

دغه رنگ موتاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ
شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي څانگه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه. کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com